**بسم الله الرحمن الرحیم**

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم ځورول

**(ژباړه)**

له انس رضی الله عنه څخه روایت دی چې رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل:

«**لَقَدْ أُخِفْتُ فِي اللَّهِ وَمَا يُخَافُ أَحَدٌ وَلَقَدْ أُوذِيتُ فِي اللَّهِ وَمَا يُؤْذَى أَحَدٌ وَلَقَدْ أَتَتْ عَلَيَّ ثَلَاثُونَ مِنْ بَيْنِ يَوْمٍ وَلَيْلَةٍ وَمَا لِي وَلِبِلَالٍ طَعَامٌ يَأْكُلُهُ ذُو كَبِدٍ إِلَّا شَيْءٌ يُوَارِيهِ إِبْطُ بِلَالٍ**» (قَالَ أَبُو عِيسَى هَذَا حَدِيثٌ حَسَنٌ صَحِيحٌ)

***ژباړه:*** *د الله په لاره کې دومره ګواښل شوی یم، چې هېڅوک نه دي ګواښل شوي او دومره ځورول شوی یم، چې بل څوک نه دي ځورول شوي. دېرش شپې او ورځې مې داسې تېرې کړې، چې ما او بلال حتی دومره غذا نه درلوده، چې یو ژوندی موجود یې دې وخوري؛ پرته له هغه څه چې بلال پخپل څنګ کې پټ کړي وو.*

د ترمذي په شرحه تحفة الأحوذي کې په کم بدلون سره راغلي دي:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم دغه خبره (**لقد أخفت**)، د إخافة د ريښې له مخې په دې معنا ده، چې په شکنجه او قتل سره وګواښل شوم. دغه خبره یې (**و ما یخاف**) یعنې هغسې چې زه وګواښل شوم، بل څوک نه دي ګواښل شوي. د (**لقد اوذیتُ**) عبارت له ایذاء مصدر څخه اخیستل شوی، یعنې په خبرو له ګواښلو وروسته په عملي ډول وځورول شوم. (**فی الله**) یعنې د الله د دین د اظهار او اعلاء کلمةالله په لاره کې. د رسول الله صلی الله علیه وسلم دا خبره (**أحد**) یعنې هېڅ انسان په دغه وخت کې او (**لقد أتت**) یعنې تېرې شوې.

طبیبی د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دغې خبرې (**ثلاثون من بین یوم و لیلة**) په شرحه کې وایي: دا یو هراړخیز ټینګار دی؛ یعنې په بشپړه توګه پرله‌پسې دېرش شپې او ورځې. هدف دا دی چې بلال په دغه وخت کې له ما سره ملګری و او یوازې لږه غذا مو درلوده، چې بلال به پخپل څنګ کې پټوله. د مختلفو روایتونو له مجموعې څخه چې د «معیشة الرسول صلی الله علیه وسلم و اهله» تر باب لاندې د رسول الله صلی الله علیه وسلم د ژوند د سختیو او اسانیو په اړه راغلي دي، وړاندې یادونه شوې ده.

کله چې ام المؤمنین خدیجه بنت خویلد رضي الله عنها ولیدل، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم د اسلام د دعوت په لار کې ځورول کېږي، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته یې د زړه‌سوي له مخې وویل: یو څه ارام او استراحت وکړه، اې د کاکا زویه!

رسول الله صلی الله علیه وسلم وفرمایل: «**لا راحة بعد الیوم**؛ *له نن ورځې وروسته استراحت نشته (اې خدیجې).*»

د رسول الله صلی الله علیه وسلم د دعوت موضوع تر دې لویه وه، چې د هغې لپاره دې په ارامۍ او راحتۍ فکر وکړي. د دعوت لپاره کوښښ کول همدومره سختي لري لکه د هغه د حمل کولو پرمهال چې سختي وي؛ یعنې که چېرې دعوتګر په دعوت کې د

خپل مســوولیت په لټه کې شي او د خپل کار ارزښــت درک کړي، نو دا به ورته معلومه شي چې د دعوت مخته وړل او په دې لاره کې هڅه کول له استراحت او ارام سره په ټکر کې دي.

اوس د دې وخت را رسېدلی دی، چې ټول مسلمان نران او ښځې باید دغه لوی هدف یعنې د راشده خلافت بیا ځلي تاسیس ته د رسېدو لپاره شپه او ورځ هڅې وکړي؛ هغه خلافت چې په نږدې راتلونکي کې يې د الله سبحانه و تعالی په مرسته ژمنه شوې ده! هو، دوی ستا سو او ا سلام د ښمنان دي؛ چې امت یې د ازبکستان په زندانونو کې پر مسلمانو ښځو له تېري نیولې په غزه کې د ماشومانو تر وژلو پورې له ډول ډول عذابونو او ربړونو سره مخ کړی دی.

هو؛ دوی ســتاســو دښــمنان دي چې زموږ د دین د له منځه وړلو لپاره شــپه او ورځ هڅې کوي! دوی زموږ مســلمانانو په ژوند کې جاوسوسي کوي، موږ نیسي- وژني او گمراه کوي؛ ناوړه حکام را باندې حاکموي، که څه هم له موږ څخه نه دي، چې زموږ په نامه دې خبرې وکړي او یا دې زموږ په خوښه حاکمیت وکړي! دوی زموږ غوښتنې تحریفوي او زموږ مشران څاري او نیسي یې! دوی دا هیله لري چې د خلافت اواز باید په نطفه کې ختم کړي! ایا موږ باید تر دوی وړاندې جدیت غوره نه کړو؟ ایا موږ باید تر دوی وړاندې همت ونه کړو؟ ایا هغه وخت نه دی را رسېدلی چې خپل ځان او خپلې کورنۍ ته د رسول الله صلی الله علیه وسلم هغه خبره ور یاده کړو، چې د وحې له نزول او د دغه درووند امانت له درک سره سم یې خپلې مېرمنې ته وویل: «له نن وروسته نور راحت نشته دی!» هو، موږ د ځان په قربانۍ کې تر دوی ډېر لومړیتوب لرو!

دوی د باطل او موږ د حق لښــکر غړي یو! دوی د کفر، فســق او نفاق پیروان دي او موږ د تقوا، عزت او عفت څښــتنان یو! دوی د دنیا بندگان دي او موږ د هغه خلافت سرتېري یو چې د الله په امر سره به تاســیس شي! دوی د نورو خلکو په ناموس، ځان، وینې او عزت معامله کوي او موږ بیا عدل پلی کوو چې هېڅکله به زیان ونه کړي! له هغه چا سره معامله کوو چې د ځمکې او اســمانونو پاچاهي یې په لاس کې ده او په دې هیله چې د دنیا او اخرت عزت د الله تعالی له لوري ترلاسه کړو!

**ژباړن: صهیب منصور**